**دافغانستان اسلامی أمارت**

**دارشاد حج و اوقافو وزارت**

**دمجمع علمی ریاست**

**د إفتاء آمریت**

شماره ...............　　　　　　　　　تاریخ　/　/ ۱۴۰۰

د نعمت الله (قادري) داستفتاء متن !

د امارت اسلامی د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مشرتابه ته!

دمجمع علمي دمحترم ریاست د پام وړ!

دقدر وړه : د روژې مبارکې په میاشت کې په اکثرو جوماتونو کې د زیات ثواب په خاطر په تراویحو کې حافظ صاحب ختم دقران کریم کوي او له ختم نه وروسته خلک ورته تبرعًا روپۍ ورکوي. پوښتنه دا ده چې حافظ ته دا شان روپۍ اخیستل جواز لری او که نه؟ او که بالفرض حافظ صاحب اجرتًا روپۍ اخلي، یعنې په اول کې په خلکو دا خبره شرط کړي، چې ماته به اجرت راکوئ، نو بیا څه حکم دی؟ (وجزاکم الله خیر الجزاء).

د وزارت دمقام حکم: (دمجمع علمي ریاست! په دې اړه ورته شرعی ځواب ورکړئ)

د ریاست کتنه اوحکم (دإفتاء آمریت! په دې اړه لازم اجرآت ترسره کړئ) .
دإفتاء آمریت ګومارنه :
(محترم مولوی عبدالستار (خادم ) دې په دې اړه شرعي مالومات ورکړي)

الجواب باسم ملهم الصواب
حامدا لله ومصلیا علی رسول الله

محترم مستفتي صاحب!
د پورتنۍ استفتاء په هکله باید وویل شي، چې: که خلک قاري صاحب ته د قرآن شریف له ختم نه وروسته، تبرعًا څه روپۍ، کالي، لُنګۍ او داسې نور څه ورکوي، باک نه لري او حافظ صاحب ته هم دا شان ډالۍ اخیستل جواز لري؛ ځکه دا د اکرام او درناوي په خاطر وي.
خو که د اجرت او شرط په ډول يې ورکوي، نو بیا جواز نه لري او په اخیستلو سره ورکونکی او اخیستونکی دواړه ګنهګار بلل کیږي.

د پورتنی استفتاء په هکله باید وویل شي، چې: که خلک قاري صاحب ته د روژې مبارکې په میاشت کې دقرآن شریف له ختم نه وروسته، څه روپۍ، کالي، لُنګۍ او داسې نور څه ورکوي، که د اجرت او شرط په ډول وي، جواز نه لري، ورکونکی او اخیستونکی دواړه ګنهګار بلل کيږي.

اما که تبرعًا د اکرام او درناوي په خاطر وي. په داسې ډول چې که خلک حافظ صاحب ته څه ورنکړي په نیت کې يې فرق نه راځي او په راتلونکي کې هم د ختم ورکولو لپاره بې له کوم څه تیاروي ، بیا باک نلري اوورته ته دا شان ډالۍ اخیستل جواز لري.

**والدليل على ما قلناه:**

**(١) وقال في المنهاج واما مايعطي في رمضان عند ختم القرآن فالحق أنه جائز لأنها هدية معروفة ليست بأجرة ويشهد له حديث الترمذي عن أنس بن مالك : أن رجلا من كلاب سأل النبي صلى الله عليه و سلم عن عسب الفحل فنهاه فقال يا رسول الله ! إنما نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة) سنن الترمذي دريم ټوک (٥٧٣) مخ - بيروت ) منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی دويم ټوک ٩٠ مخ ).**

**(٢) اور ہدیہ کے لینے اور دینے میں خواہ معروف ہو یامشروط ہو کوی حرج نہیں، والحرج إنما هو في الأجرة سواء كانت مشروطة أو معروفة وكلتاهما منتفيان لعدم عقد الإجارة بالقول ولاباالتعاطي فتدبر) فتاوی فریدیه دويم ټوک ٥٧٦ مخ) مجموعة الفتاوي الكنوي لومړی ټوک كتاب الصلاة ٢٢٤ مخ).**

**(٣) وأن القراءة لشئ من الدنيا لا تجوز، وأن الآخذ والمعطي آثمان، لان ذلك يشبه الاستئجار على القراءة، ونفس الاستئجار عليها لا يجوز فكذا ما أشبهه كما صرح بذلك في عدة كتب من مشاهير كتب المذهب، وإنما أفتى المتأخرون بجواز الاستئجار على تعليم القرآن لا على التلاوة، وعللوه بالضرورة ، ولا ضرورة في جواز الاستئجار على التلاوة) حاشيه ردالمحتار لومړی ټوک ٦٨٧ مخ - مطبعه الميمنية- مصر).**

**(٤) وَمُنِعَ الْقَارِئُ لِلدُّنْيَا وَالْآخِذُ وَالْمُعْطِي آثِمَانِ) درر الحكام شرح مجلة الاحكام طبع بيروت).**

**(٥) عن عبد الرحمن بن شبل الأنصاري قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول إقرأوا القرآن ....ولا تأكلوا به (أي بمقابلة القرآن أراد لا تجعلوا له عوضا من سحت الدنيا ). عمدة القارى شرح صحيح البخارى ٣١ ټوک ٣٦٠ مخ - شامله) مسند احمد ٣ ټوک ٢ مخ - طبع قرطبة )**

**(٦) من قرأ القرآن ليستأكل به(اى بتلاوة القران) الناس، جاء يوم القيامة ووجهه عظم ليس عليه لحم) مصنف ابن أبي شيبة طبع – بيروت - شرح صحيح البخارى - لابن بطال).**

په پای کې، پورتني دلائلو او فقهي عبارتونو ته په کتو، په لنډ ډول ویلای شو، چې د روژې مبارکې میاشت کې، د قرآن شریف له ختم نه وروسته، حافظ صاحب ته یو څه د ډالۍ په ډول ورکول جواز لري او د اجرت په ډول جواز نه لري، چې باید ورڅخه ډډه وشي.

والله أعلم بالصواب

مولوی عبدالستار (خادم)

د إفتاء آمريت تخصصي اومسلكي مدير

وَيُفْتَى الْيَوْمُ بِصِحَّتِهَا لِتَعْلِيمِ الْقُرْآنِ وَالْفِقْهِ وَالْإِمَامَةِ وَالْأَذَانِ) شيرم توك (٣٣٩) مخ- دار الفكر-بيروت)

( ) مال أكثرالأكابر إلي عدم الجواز لأنها أجرة التلاوة ومال البعض إلي الجواز لأنها أجرة مقيدة بقراءة مخصوصة وهوالأقوي والأول أحوط وهو الموفق.